مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالهادي هادي ۲۰۲۲/۰۸/۱۸

**د افغانستان سیاسي استقلال د بېرته ترلاسه کولو یوسلودریمي کلیزه دې بختوره وي!**

# ستا به باور نه راځي!...

دا شعر د تالیبانو په اوله دوره کې د افغانستان د استقلال د ناجي اعلیحضرت امان الله خان غازي د میرمنې ملکه ثریا پر مزار لیکل شویدی.
هادي

ستا به باور نه راځي!...
واه ملکی! څومره هوسا ،څه په آرام پرته یې
په څومره برم د عظمت د غره پر بام پرته یې
واه زورورې! لا دې هم خلک سلام ته راځي
شه مبارک چې پر لیمو د یوه قام پرته یې
×××
دلته نازو او زرغونه خلک په کانو ولي
د ملالی د خولې تپه خلک په کانو ولي
هره اونی د ښار لوبغالي کې راټول وي اولس
یوه ښایستوکې پرښته خلک په کانو ولي
×××
داسې ماحول کې د تا خپل نوم او نښان پاتې دی
لا دې پر قبر د نامه توری روښان پاتې دی
په دې مالت کی چې د ښځی وجود شرم ګڼي
وایه چې څنګه دې لا قبر په امان پاتې دی؟
×××
هغه شیطان چې ته تکفیر کړې ته یې وشړلې
لا د تذویر تسبي په غاړه په ممبر کې ناست دی
هغه شیاد چې ستا له نوم سره ګناه تړلې
لا د اولس په وینو څرې په بر سر کې ناست دی
×××
سر دې راجګ کړه ثریا ستا به باور نه رآځي
ښار کې د جهل او تورتم د لښکر راج وګوره
هغې بلا چې د رڼا پر لمن داغ وو ایښی
اوس یې پر سر ستا د غازي ملګري تاج وګوره
×××
یو وخت رڼا د دریځې کیلي د تا په لاس وه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ته وې په مخکې او تر شا د نور لښکر دې راوست
تا د آدم کېنې پوښتنې ته خپل هویت وباښه
سر دې په تله کې وو ایښی دلې لمر دې راوست
×××
تا د رڼا د نور د کرښو تلاوت وکاوه
تا له رواج نه یو ښایستوکی بغاوت وکاوه
زه دې له سوي نا امید زړه نه لوګی شم بې بې
تا د سهر د راوستلو ریاضت وکاوه
×××
ثریا مرګ دی دلې، مرګ دی دلې، مرګ دی هر خوا
ستا د وطن لوڼې بندیانې دې، بندیانې دلې
تورو پردو، تورو ښیښو، بندو کړکیو شاته
د مرګ مزل باندې روانې دې روانې دلې
×××
دلته دې خویندو ته د جنس په نوم سزا ورکوي
څو پرښتې د یو ابلیس کور ته رڼا ورکوي
هر ځناور چې د دې کلي څاروي ډیر وخیري
ورته ډالۍ زموږ امام لوڼه د تا ورکوي
×××
ملکي دلته خلک ستا قبیله کمه تلي
څوک یې له وینځو، څوک نانځکو سره سمه تلي
دلته حوا نه انکاري دې د حوا بچوړي
دلته عادت دې خلک نجونې له درهمه تلي
×××
ستا په وطن کې ښځې اوسي خو انداز یې نه شته
پیغلې هغه، نجونې هغه د ټپې ساز یې نه شته
دلې د پیغلو د واده جامې په اوښکو لمدې
لکه د وینځو پر سر لښتې خورې آواز یې نه شته
×××
ځمکه دې وسوځې چې ستا نازک وجود یې وخوړ
زموږ د ورانې کلا لمر، د هسک سپوږمۍ خو ته وې
ستا د غازې جانان پر سپین سپځلې روح مې قسم
زموږ په تور تیاره مالت کې ډیوه ګۍ خو ته وې
×××
ملکي وګوره ستا قام قبیله څنګه ښکاري؟
دلته وهلې ابوجهل سیکه څنګه ښکاري؟
ستا د حیا هره خبر یې چې ګناه ګڼله
اوس یې جومات کې اوښتلې قبله ښکاري؟
×××
ستا قبیلې ته ستا وطن کې چا رانجه ورکړې
زړګی یې وچاوده، فریاد کوي خو زوږ یې نه شته
راشه آواز یې شه په ستونې کې فریاد وکوه
چې وطن ډک دی له ښځمنو نه خو غږ یې نه شته
×××
پاڅه یو ځل د خپلو خویندو امامت وکوه
بیرته ښځمنو ته د ژوند د امید کور وښیه
دغو بې روحه او لار ورکو جسدونو ته مو
تورو تیارو کې د رانه سباون لور وښیه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ